# نوې هيله



د تاسيس کال ۱۳۸۱ ل. ۲۰۰۲ م.

پـه سويډن کې د افغانانو د علمي او کلتوري مرکز خپرونه

نشريه مرکز علمي و فرهنگي افغانها در سويدن

**دا خـپرونه ستاسې د افکارو، نظرياتو او عقايدو ځرګندويه ده.**
**تاسو کولای شئ خپل نظريات او عقايد ددې نشريې له لارې خپاره کړئ.**

شپږم کال ـ پرلپسې نهه ويشتمه ګڼه ۱۳۸۸ لمريز کال ليندۍ (قوس) Nr. 29 nov 2009


## ښاغلی کرزی ددوهم ځل لپاره ولسمشر وټاکل شو

پسله هغه څخه چې ښاغلي عبدالله دټاکنو په دوهم دور کې دګډون څخه ډډه وکړه دټاکنو خپلواک کميسيون ددوی په وينا تر يولړ قانوني او حقوقي مشورو وروسته ښاغلي حامد کرزي دټاکنو بريالي اود افغانستان راتلونکي جمهوررئيس اعلان کړ.
داساسي قانون له مخې ښاغل کرزي دافغانستان دجمهوررئيس په توګه ددوهم ځل لپاره لوړه وکړه. افغان ولسمشر حامد کرزي د خپلې دوهمې دورې حکومتدارۍ لپاره په کابل کې دنومبر پر ۱۹ مه پداسې حال کې لوړه وکړه چې دګڼو هيوادونو د بهرنيو چارو وزيرانو او نورو استازو د پاکستان د ولسمشر آصف علي زرداري په ګډون چې دبهرنيو ميلمنو شمير درې سوه او کورنيو پنځوسوه کسانو ته رسيده لوړه وکړه.
ښاغلي حامد کرزي چې د يوې اته کلنې دورې حکومتدارۍ تجربه لري په خپلو خبرو کې تر ډېره د خپل حکومت لاسته راوړنې په ګوته کړې اوهمدا ډول يې دخپل حاکميت ددوهمې دورې د راتلونکي اقتصادي ،سياسي اوپوځي پروګرامونو په اړه دغونډې برخوالوته لنډ معلومات ورکړ.
ښاغلي کرزي په خپله لومړۍ وينا کې له خپلوپخوانيوسيالانو ډاکټر عبدالله او ډاکټر اشرف غني څخه هم غوښتنه وکړه چې د هغه په وينا د هيواد په بيا جوړونه کې دهغه سره مرسته وکړي .
خودښاغلي کرزي ددې وړانديز په اړوند دډاکتر عبدالله غبر ګون منفي اوډاکتر اشرف غني احمدزي خپل شرطونه وړاندې کړل.
ښاغلي کرزي په خپله وينا کې په تکرار له طالب جنګياليونه وغوښتل چې دده سره پخلا شي اوله جګړې نه لاس واخلي عادي ژوند پيل کړي .مګر دطالب جنګياليو مشرتابه داوړانديزونه دتل پشان يوځل بيا ردکړ، پدې هکله دلوی اختر په مناسبت دملا عمر اخند پيغام کې په تفصيل يادونه شوې . هغوی وايي چې لومړی دې بهرنيان له هيواده ووځي اوبيابه خبرې سره کوو. ښاغلي حامدکرزي د لوړې په مراسمو کې د ښې حکومتدارۍ او له اداري فساد سره د مبارزې پر اړتيا هم ټينګار وکړ او په دې برخه کې يې دنوې ادارې تر څنګ پر زړوجوړو شويو ادارو هم د ښه کار کولو غږ وکړ. دخپلې لومړنۍ وينا پر بنياد دروان ۲۰۰۹ ز کال دنومبرپر ۲۳ مه دډله ايزو رسنيو له لورې خبر خپورشو چې ښاغلي حامد کرزي دفرمان پر اساس ((د څارنې عالي ادارې ته دنده سپارل شوې چې په يوه مياشت کې له فساد سره د مبارزې د لارو چارومومندلو لپاره يوملي کنفرانس جوړ شي. )) ښاغلي کرزي پرافغانانو هم غږکړی چې په دې برخه کې ورسره مرسته وکړي. تر کومه ځايه چې افغانانوته دښاغلي کرزي اودهغه ددولت تېر وختونه ورپياد دي پدې ډېر ډاډمن او باوري ندي چې دا ډول کنفرانسونه دې دافغان ولس دځوکلونو ورپېښ درد دواکړي اويادې ددولتي فساد جرړې چې اوس يې له بدمرغه قانوني بڼه اخيستې وايستل شي. دوی وايي ددولتي فساد دله منځو وړلو اساسي لاره اوچاره دسالمې دولتي ادارې جوړېدل آوپدې اداره کي سالمو اوسپېڅلو کسانوته دچارو

## لوی اختر مو مبارک شه

سپارل به داملي ستونزه چې افغانستان ته يې دشرم نړيوال شهرت ورکړ تر ډېره بريده حل کړي. افغانان دښاغلي کرزي څخه په کلکه غواړي چې دملت ددوستانو اودښمنانو تر منځ تفاوت ته قايل اوسي ، هغه کسان چې په تېرو ځوکلونوکې يې ونشوه کولای وطن ته خدمت وکړي ددوهم ځل لپاره په لوړو دولتي مقامونوکې دهغوی ګمارل به دا ملي ناروغي نوره هم اوږده کړي.موږ ددې ناورغۍ تر ټولوښه اولنډه لار دافغان ولس ټوليز خرد ته مراجعه اودهغوی دغوښتنو اوپوښتنو تر اورېدو وروسته دحل دمعقولواومثبتو لاروچارو لټول بولو . په هيواد کې دټولوسيالو ډلو ،ګوندونو ،تنظيمونو اوشخصيتونوڅخه مو غوښتنه داده چې نور پدې هيواد کې دقدرت پر سر داسياسي اوپوځي سيالۍ اوږده نکړي ، دملي ګټوپر بنياد ، د اسلامي او وطني مسئولت په درکولوسره ددې وران او ويجاړهيواد پر اوسېدونکو زړه وخوږوي اودروښانه راتلونکي په لوردنړيوال کاروان سره يو ځای پر مخ ولاړ شي. ښاغلی حامد کرزی بايد ځو ورځې وروسته يو ځل بيا نوې کابينه هم جوړه کړي او اورېدل کېږي چې پدې کار مصروف دی.
افغان ولس دښاغلي کرزي نه غوښتنه لري که دحکومت دنوې کابينې دجوړېدو واک پخپل لاس کې واخلي اودا ځل بايد کابينه پدې ډول جوړه کړي چې له پخوانۍ کابينې سره په ټولوبرخوکې توپير ولري ، تر ځو سبا تاسوښاغلی کرزی خپله پدې ستونزه اخته نشئ چې حل يې بيادرته ګران وي. افغان ولس دنوې کابينې دجوړېدو په اړوند له نړېوالې ټولنې هم په کلکه غواړي، چې له يوې خوادې په دولتي ادارو کې د فساد اولويوجرمونو پرضد مبارزه جدي او پراخه بڼه پر مخ بوځي اودبلې خوادې دښاغلي کرزي سره د داسې کابينې په غوره کولوکې مرسته وکړي چې ټول آفغان ولس (موافقو اومخاليفو ) ته دمنلووړسپېڅلي اومسلکي کسان په دندو وګمارل شي . موږ په بهر کې اوسېدونکي افغانانو پر ټولو هيوادوالو غږکووچې ددې کورني ناورين اوناخوالو چې اوس يې سيمه ايزه يانړيواله څېره غوره کړېده دحل لپاره پخپله متې راونغاړو. په پردو دکور جوړول دامعنا لري چې دوی به زيات صلاحيت لري کوم چې موږ ته دمنلو وړ ندي. ايا دا د شرم اوعارخبره نده چې تل پرديو ته د اميدلاسونه غځوو؟ موږ پدې باور يو چې په دوامداره توګه پرديوته داميد او احتياج سترګې کږول به زموږ ملي غرور اوشهامت ته نه يوازې داچې تاوان ورسوي بلکې زموږ تېر تاريخ اودهغه لاسته راوړنې به هم له جدي سوالونوسره مخامخ کړي . تاريخ ثابته کړې کله چې زموږ پر هيواد والو ډېره سخته شوې ده، نوخپله افغانانو د جرګو اومشوروپه مټ دستونزې دحل لاره پيدا کړې ده. دادی اوس چې زموږهيواد اود هغه راتلونکې برخليک له جدي برخليک ټاکونکو ګواښونو اوچلنجونوسره مخامخ دی بايد موږ افغان يې دملي يووالي اويوبل ته دتېرېدنې په عالي روحيه د حل لار پيدا کړو.

لیکوالنکی: عزت الله مخلص، سعودی عربستان ریاض

# د لوی اختر د میاشتې د لومړنیو لسو ورځو فضیلتونه

الحمدُ للهِ وکفی والصَّلاةُ والسلامُ علیٰ مَنْ لاَ نَبِي بَعدَهَ
الله رب العَزت پخپل حکمت او پوهې سره ځنې ځایونو ته په ځنیو نورو ځایونو فضیلت او برتري ورکړې او همدا شان ځنیو وختونه ته یې په نورو وختونه باندې ارزښت ورکړی له هغه وختونو څخه چې الله غوره گرځولي، د لوی اختر د میاشتې لومړنۍ لس ورځې دي، الله په کې نیکیانې یو په دوه کوي، او دا د لوی خدای له اړخه په مونږ (مسلمانانو) باندې یو خورا لوی احسان دی چې مونږ ته یې داسې موسمونه را په برخه کړي چې عبادت لږ او ثواب یې ډیر وي. حضرت ابن عمر رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی دی چې انحضرت وفرمایل: ستاسو او د یهودیانو او د نصرانیانو مثال داسې دی: چې یو سړي مزدوران په مزدورۍ نیولي وي او بیا داسې ووایې چې څوک ماته د سهار نه تر غرمې پورې په یوه اشرفۍ کار کوي؟ نو یهودیانو مزدوري وکړه. بیا یې وویل چې له غرمې نه تر مازدیگر پورې څوک په یوه اشرفۍ کار کوي؟ نو نصرانیانو (عیسایانو) کار وکړ. او بیا یې وویل چې مازدیگر نه تر ماښام پورې څوک په دوه اشرفۍ کار کوي؟ نو بیا تاسو یعنې مسلمانو کار وکړ، نو یهودیان او نصرانیان په قهر شول او وویل چې دا ولې؟ کار مونږ ډیر وکړ، او پیسې مو مونږ ته لږ راکړې؟ هغه ورته وویل: ایا ستاسو په حق کې مې څه کمې کړې ده؟ هغوی وویل چې نه. نو بیا هغه وویل دا زما خوښه ده چې چاته څومره ورکوم. صحیح بخاري
ځینې هغه دلیلونو چې د دې لس ورځو فضیلت پرې ثابتیږي، الله رب العزت په دې ورځو باندې لوړه (قسم) کړې ده. ژباړه: ((قسم دی په سهار او قسم دی په شپو لسو باندې.))
ابن کثیر رحمه الله لیکلي دي چې دا لس شپې د لوی اختر لومړنۍ لس ورځې دي او دا خبره یې د ابن عباس او ابن زبیر رضوان الله علیهم او نورو مختلفو مخکنیو او روستنیو علماو نه روایت کړې ده. شاه ولي الله دهلوي رحمه الله لیکلي دي چې: الفَجْر نه مطلب د لوی اختر ورځ ده او ولیالٍ عَشْر نه مطلب د لوی اختر نه مخکینی لس ورځې. او شیخ الاسلام ابن تیمیّه او ابن قیم رحمهم الله هم همدا خبره ترجیح کړې ده.
او دا هغه لس ورځې دي په کوم کې چې الله مونږ ته د حج کولو، او د ذکر کولو حکم کړی دي، الله تعالی فرمایلي دي:
ژباړه: (او اعلان وکړه په خلکو کې د حج، نو راځي به تاته پیاده او سواره په هره تیز رفتاره سوارلۍ، چې راځي به د هرې لارې لرې نه ددې لپاره چې حاضر شي فایدو خپلو ته، او یاد کړي نوم د الله تعالی په ورځو معلومو کې په هغه څه چې ورکړي دي دوی ته الله تعالی د څاروو نه.)
ابن عباس رضي الله عنه فرمایلي د أَیَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ نه مراد د لوی اختر لومړي لس ورځې دي. (بخاري باب العیدین)
او په یو بل حدیث کې راغلي چې د دنیا غوره لس ورځې هم دا دي (صحیح الترغیب/ البانی)
او په همدې لس ورځو کې یو ورځ د عرفات ورځ ده، او د عرفات په ورځ کې الله د بندگانو گناهونه معاف کوي او له دوزخ څخه یې ازاد وي او ځینې نورو ته جنت ورپه برخه کیږي، او که په همدې لس ورځو کې یوازې د عرفات ورځ وي نو همدا یې د برکت او غوره والي لپاره کافي وه. د عرفات په ورځ الله تعالی د بندگانو دعاگانې قبلوي
او په همدې ورځو کې یو ورځ د لوي اختر د قرباني ورځ ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:
ژباړه: (یقینا چې د الله په نیزد له ټولو ورځو نه غوره ورځ د قرباني ورځ اود قرباني نه وروسته ورځ).
د قرباني ورځ خو د حج اکبر ورځ ځکه ده چې خلک په مزدلفه کې د دعا او ژړا نه روسته د لوې جمرې (شیطان) دویشتلو لپاره ځي او بیا د کعبه په طرف د طواف لپاره ځي او بیا د سر ویښتان واړه یا یې خریې (گلْ کوي) او بیا قرباني کوي.
او دا لس ورځې دومره مبارکې دي چې الله تعالی په کې مالي او بدني او قلبي عبادتونه ټول ،راټول کړي لکه: لمونځ، روژه، حج او د الله په لار کې خرچه کول. ابن قیم پخپل کتاب التبیان في اقسام القران کې لیکلي دي چې په کومو ورځو کې دومره نیک عملونه را ټول سوي وي دا ددې وړ ده چې د الله له اړخه قسم په یاد شوي وي.
په دې لس ورځو کې د نیکو اعمالو د کولو ثواب ته ځیر سي.
ژباړه: حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې بله هیڅ ورځ داسی نشته چې نیک عمل پکې الله ته دومره خوښ وی لکه په دی لسو ورځو کې، صحابه کرامو عرض وکړو، یا رسول الله: جهاد هم ددې ورځو د عمل برابر ندی؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل هو جهاد هم په دی ورځو کې د شوي نیک عمل برابر ندی، مگر هغه سړی چې ځان او مال دواړه واخلي جهاد ته ولاړشي او بیرته یوهم رانه وړي دواړه قربان کړي (شهید شي). که غواړې چې ددې ورځو فضیلت مو په ذهن کې پاتې سي نو لاندې حدیث په غور سره ولولي او بیا یې مخکیني حدیث سره مقایسه کړې.
ژباړه: ابو هریرة د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړي فرمایي: یوه ورځ یو سړی رسول الله ته راغي او وویل: داسې عمل ما ته را په گوته کړې چې د جهاد سره په ثواب کې برابر وي؟ هغه ورته وویل: چې داسې عمل نه وینم چې په ثواب کې د جهاد برابروي. بیا یې ورته وویل چې: ایا داسې کولی سې چې کله مجاهد له کور ووځي او ته خپل جومات ته ننوځې او دومره لمونځ وکړې چې ستړې نسې او پرله پسې روژه ونیسې او ماته یې نه کړې) هغه وویل چې دا څوک کوي سي!!). او په دې لس ورځو کې د نیک عمل کولو ثواب تر جهاد کولو هم زیات دي.
نو دومره با ارزښته ورځې باید څنگه استقبال سي؟
لومړی: باید هر مسلمان د ټولو گناهونو نه ټینگه توبه وباسي او کلکه اراده وکړي چې بیا به د الله نافرماني نه کوم، او په رښتیا سره دې د نیکو اعمالو د کولو تصمیم ونیسي او هر څوک چې الله سره رښتیا ووایي الله یې کارنو په رښتیا کوي،
دوهم: په دې ورځو کې حج او عمره کول که د چا وس وي. له حضرت ابی هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یوه عمره تر بلی عمرې دهغه گناهونو کفاره ده چې د دوی تر منځ وي، او دقبول شوي حج بدله پرته له جنت څخه بل شی ندي (د مبرور معنی هغه چې گناه پکې نه وي، قبول شوی وي، هغه چې ریا پکې نه وي یا هغه چې ورسته ورځخه گناه ونشي).
دریم: په دې ورځو کې روژه نیول، ځکه چې روژه نیول غوره عبادت دي او روژه الله ځان ته خاص کړې، او څوک چې یو ورځ د الله په لار کې روژه ونیسي الله به یې د اویا کالو په مسافه له دوزخ څخه لیرې وساتي، خو د نهمې (عرفات) د ورځې روژه نیول پرته له حاجي نه نورو مسلمانانو ته سنت ده رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:
ژباړه: د عرفات د روځې د روژې نیولو په ثواب کې مې په الله دا امید دي چې د راتلونکي کال، او تیر سوي کال گناهونه پرې معاف کړي.
څلورم: او په دې ورځو کې تکبیر تهلیل، ویل سنت دي امام بخاري رحمه الله لیکلي دي.

ژباړه: ابن عمر او ابو هريرة رضوان الله عليهم به په دې لس ورځو کې بازارونو ته وتل او تکبير به يې ويلې او خلکو به هم ورسره ويلې. او دې تکبير الفاظ داسې دي: الله أكبر الله أكبر، لا إله إلا الله، والله أكبر الله أكبر ولله الحمد. او دا تکبير د عرفات د ورځې له ماسپښين نه او حاجيان به يې د اختر له ماسپښين نه د اختر تر دريمې پورې له هر لمونځ نه ورسته هم وايي.

او د لوی اختر په ورځ کې قرباني کول واجب ده ، په هغه چا چې زکات فرض وي او د لوی اختر په ورځ غوره عبادت چې د الله نيزدېوالي پرې حاصليږي هغه قرباني کول دي ، او همدا د مسلمان د تقوی نښاني ده او لکه څنګه چې په دې ورځو کې ثواب يو په دوه کيږي همدا شان ګناهونه هم په کې څو چنده کيږي نو بايد انسان ډير کوښښ وکړي چې په دې ورځو کې ځان له ناوړه کارونو نه وساتي. او په اخر کې د الله نه دعا کوم چې ما او تاسو ته د صالح عمل کولو توفيق راکړي، وصلى الله على نبينا محمد وعلى آله وصحبه وسلم. پای



عبدالغفور لېوال

# درېيمه لار

## ولې درېيمه لاره؟

داسې هېوادونه شته چې هم خواري کوي او هم فکر، پرمختللي او ماړه هېوادونه دي لکه جاپان، د جاپان خلک خواريکښ او ذهين دي، د ماشين په څېر کار کوي او د کمپيوټر په شان فکر.

داسې هېوادونه شته چې نه خواري کوي نه هم فکر، خو ماړه دي، د خليج ځيني هېوادونه لکه عربي متحده امارات او نور داسې دي، د دوی لپاره بهرنيان هم فکر کوي او هم خواري ، اروپاييان ورته فکر کوي او آسيايان ورته فزيکي کار، دغه هېوادونه ماړه دي خو پرمختللي نه دي، پرمختګ د فرهنګي ودې له يوه ټاکلي بريد ( حد ) څخه اوښتل دي. دغه هېوادونه پراخه طبيعي سرچينې لري. عربو ته خدای (ج) تيل او انرژي ورکړې ده.
داسې هېوادونه هم شته، چې خواري او زحمت باسي، خو فکر نه کوي، خوار او غريب دي، لکه افغانستان. افغانان فزيکي خواري کوي، ډېر فکر نه کوي د تعليم کچه يې ټيټه ده څکه خو هم خوار دي او هم بې ثباته، له دې اړخه د نړۍ هېوادونه په نورو ډولونو هم ويشلی شو ؛ ځيني هېوادونه پرمختللي دي خو ماړه نه دي، دوی فکر کولای شي خو د عربي نړۍ د هېوادونو په څېر سرچينې نه لري. يو شمېر اروپايي هېوادونه لکه يونان په دې ډله کې راځي.

څه هېوادونه هم سخته خواري کوي او هم فکر کولای شي خو ډېر ماړه او پرمختللي نه دي يو دليل يې د ګڼ نفوس درلودل دي لکه چين او هندوستان، دغه دوه هېوادونه خورا چټک پرمخ ځي او د نړۍ په اقتصادي وده کې يې ځانته لومړي ځايونه نيولي دي، خو چين د سياسي نظام ستونزه لري او هندوستان د نفوسو او فقر له ستونزې څخه ځوريږي.

ځيني هېوادونه داسې دي چې نه طبيعي سرچينې ډېرې لري، نه ډېر فکر کوي، او نه يې هم خواري ځای نيسي، افريقايي وروسته پاتې هېوادونه همداسې دي.
د بېلا بېلو هېوادونو په اړه له داسې سرسري انګيرنو څخه وروسته راځم خپلو ستونزو ته:

دا به منو چې موږ افغانان هم وروسته پاتې يو ، هم خوار، هم وران شوي او هم وژل شوي. نه خواري کوو ( او که يې کوو نو ځای نه نيسي) او نه هم فکر کولای شو ، يو خو د فکر کولو مشق نه لرو او بل يې تعليم.

دا چې ولې دومره بدمرغه يو ، لاملونه يې ډېر دي: سياستپوهان وايي چې موږ په بد سياسي موقعيت کې پراته يو او د خپل موقعيت بلهاريان يو ، ټولنپوهان وايي چې زموږ ټولنيز جوړښت سم نه دی، په قومي ، ژبني، مذهبي او ... ويشونو سره ويشل شوي يو ، انتروپولوژستان وايي: چې زموږ ټولنيزه اروا پوهنه همداسې ده چې خواري او فکر کول مونه خوښيږي، دا مو ټولنيز عادت دی، چې ژمي پيتاوي ته ناست يو او اوړي سيوري ته، لږ کار کوو ، لږ فکر کوو او ډېر خورو او ډېرې خبرې کوو ، تاريخ پوهان وايي: له تاريخي پلوه موږ ټول عمر په جګړو کې تېر کړی دی او فکر و کار ته نه يو وزګار شوي، انقلابيون وايي: موږ مستبدو او مرتجع حکومتونو ويده او وروسته پاتې ساتلي يو او د ويښتيا او روښانيتا پړاوونو ته يې نه يو پرېښي، ملايان وايي: چې زموږ اعمال او نيتونه خراب دي، د خدای(ج) له لارې څخه مو ځان نه دی خبر کړی څکه نو د خدای(ج) قهر را باندې نازل شوی دی. نړيوال وايي: چې افغانان تيار خواره دي، کار او فکر نه کوي بس لاس يې اوږد دی او ټول عمر مرسته او خيرات غواړي. افغانان وايي: نه دا د نړيوالو ګناه ده چې موږ داسې يو ، د دوی سياسي لوبې ددې لامل شوې چې موږ خراب او وروسته پاتې يو ، اوس چې همدې نړيوالو خراب کړي يو ، دا د دوی مسؤليت دی چې بېرته مو جوړ کړي، دا مرسته او خيرات نه، بلکې زموږ پړې پور دی...
هر څه چې وي، وي به، کېدای شي دا ټول دلايل سم وي خو حقيقت دا دی چې موږ پريوتي، ژوبل، وروسته پاتې او زخمي يو.
عجيبه داده چې په دې ليکنه کې (خواري) او (فکر) ډېر ياد شول، داسې ګومان پيدا کېږي چې د پرمختګ لپاره دا دوه کاره په کار دي (زحمت، فزيکي کار، توليد او بشري ځواک) او ( فکر، پوهه، تجربه او تعليم) که څه هم موږ وليدل چې ښه، سالم او ديموکراتيک ليډرشپ ( سياسي مشري)، طبيعي سرچينې، جغرافيايي موقعيت، نفوس او سياسي ثبات هم د پرمختګ او مږښت لپاره مهم دي، خو د منځ ټکي يې هماغه زحمت ايستل او پوهه ده.

دا فکر ماته په جاپان کې پيدا شو. د هوکايدو پوهنتون د يوه لکچر لپاره ميلمه کړی وم، ددغه پوهنتون له استادانو سره مې په ځينو مسلو خبرې وکړې هڅه مې وکړه چې د پرمختګ، تکنالوژۍ او پوهې ددغه افسانوي هېواد د پرمختګ په رازونو پوه شم.

او کېدای شي زه، د خدای(ج) دغه بېچاره بنده، ډېر ناوخته په دې پوه شوم چې فکر کول ( د پوهې پياوړې کول) او جسمي خواري او زحمت هم وګړی ( فرد ) پرمخ بيايي او هم ټولنې ته د پرمختګ لار هواروي.

خودلته د فردي پرمختګ او د ټولنيز پرمختګ ترمنځ د مخامخ اړيکي ترڅنګ توپير هم شته د فردي پرمختګ لپاره د شخص اراده، استعداد او توانمندي ضروري ده خو ټولنه چې د اشخاصو مجموعه ده، د پرمختګ لپاره سالمې، روښانه او ژمنې رهبرۍ او مشرتابه ته اړتيا لري. د همداسې مشرتابه د رامنځ ته کولو لپاره هم خلک مسؤل دي، څکه: «هر ملت په هغه حکومت ارزي چې لري يې» په دومره لانجمنه نړۍ کې موږ افغانان په عجيب نامتوازن حالت کې يو ؛ په ګڼو عرصو کې د پنځلسمې او شپاړلسمې ميلادي پېړۍ له فکري عصر سره ژوند کوو ، خو په ځينو برخو کې يويشتمې پېړۍ ته ننوځو ، په افغانستان کې د مدرنيزم او زوړپال دوډيال ژوند ترمنځ واټن د ټولنيز ټکر او ګډوډۍ لامل ګرځي.

پاتې په ۴ مخ کې

**دربيمه لار...**

په سرو ـ شنو انقلابونو کې زموږ يوه جدي ستونزه داوه، چې په کلکه د پرديو په مرستو پورې تړلي عادت شو. د افغانانو په عامه ذهنيت کې يو باور داسې دی چې تل به پيسې له بهره راځي، بهرنيان به راته پاليسي جوړوي، بهرنيان به راځخه دفاع کوي او عقل به رابښيي، تکنالوژي به راليږي، فکر به راته کوي او خواري به هم راته باسي.

ددې په وړاندې به موږ دوه برخې کېږو : يوه برخه به له بهرنيو سره جګړه کوو، د جهاد، مقاومت، آزادۍ او خپلواکۍ شعارونه به مو پر سر نيولي وي او ډېر ځله به خپل خلک وژنو، دوهمه برخه به د بهرنيانو تر تخرګ لاندې ننوځو او د هغو په مرسته به نيم ونيمکله واک چلوو، هغه د خپلواکۍ په نامه هم چې راپاځيدلي يو، په دې به نه پوهېږو چې سم خپلواک نه يو او د خپلواکۍ غوښتنې سرچينې مو هم له نورو بهرنيانو څخه اوبه څښي. بس نيم قاتل شوو، نيم مقتول. همدادی زموږ سياسي ژوند.

موږ ته له اوږدې مودې راهيسې دا سودا او دا انديښنې لوی لوی ماران او ښاماران شي او موږ وخوري، چې ايا د همداسې دوه اړخيزه ټکرونو ترمنځ به تر کله يو بل وژنو؟ واکمن به د مقاومت بهير ځپي او مقاومت به دا بل وژني خو په حقيقت کې به ريښتني صدمه او زيان ملت ته رسېږي.

ددې دوه اړخيزه جګړې ترمنځ «دربيمې لارې» ته لږ سوچ نه کوو، د افراط او تفريط ترمنځ د تعادل خيال نه ساتو او د حل پر لارو فکر نه کوو، موږ افغانان د عمل او عکس العمل ترمنځ تباه شو، پوزيشن او اپوزيشن مو وسله وال دي، دواړه ډزې کوي او ترمنځ يې خلک وژل کېږي.

د فکر او خوارۍ خلک يا نه لرو، يا يې لږ لرو، يا بهر ته تښتېدلي، يا يې څوک غږ نه اوري او اهميت نه ورکوي.

د فکر او خوارۍ ايستلو خلک همدا د دربيمې لارې خلک دي، چې بالاخره به افغانستان ژغوري. دا وطن په څوکۍ، ټوپک او پېسو نه، بلکې په فکر، قلم او خوارۍ جوړېږي.

ددربيمې لارې لارويانو ته د ستېج ورکولو لپاره د ليکنو دا لړۍ پيل کوو او هيله ده چې هېوادوال مو ملاوتړي او د قدرمنو قلموالو او روښانفکرو نظريات مو پر سمه لاره ورسيخ کړي، په همدې هيله.

نور بيا....

پوهنمل حاجي محمد نوزادي



# د زړه دناروغۍ په هکله د يوې څېړنې پايلې

ترهغه وروسته چې مې دزړه باي پاس عمليات د ډنمارکي زړه سوانو ډاکترانو پلاس ترسره شوه، دزړه درګونو دناروغۍ په اړوند چې هر نوی معلومات درسنيو دلارې تر ما پورې رارسيدلی دی، هغه مې په غور لوستی او تر وسه وسه مې يې ژباړه دلوستونکو وطنوالو سره هم شيريکه کړيده.

پدې لړ کې مې ځورځې وړاندې د timer24پنامه دنمارکي ژبې ورځپاڼې د ۲۰-۱۱-۲۰۰۹ نېټې په ګڼه کې د يوې څېړنې پايلې تر سترګو شوې. دلته دڅېړنو موضوع دزړه درګونو دوژونکي ناروغۍ په اړه ټاکل شوی او ددغې ناروغۍ څخه مخنيوی يې بنسټيزه موخه وه. پدغې څېړنې کې د درملو په توګه کارول شوی مواد داسې نشه ای توکي دي چې استعمال يې دځان دنشه کولو په موخه دمسکراتو په ډله کې داسلام سپيځلي دين په کلکه غندلې اومنع کړيدي. خو داچې د درملو په توګه دپاک الله ( ج ) دعبادت دپاره دخپل ژوند دساتلو په مقصد په لږه اندازه ترې نه کار اخيستل روا دی او يا ندی، زه يې په هکله هيڅ ويلای نشم او د ديني علمای کرامو څخه مې هيله داده چې داسلامي ارشاداتو په رڼاکې پدې باره کې لازم معلومات وليکي څو خدای مکړه مومن مسلمانان په ناپوهۍ سره دکبيره ګناهونو په لور تشويق او ټيله نشي. دغه نشه ای توکي چې پدغې څيړنې کې کارول شويدي، الکول دي او داهغه څه دي چې داکثرو طبي دواګانو په ترکيب کې په يوه ټاکلې پيمانه ګډ شويدي. داشی همدارنګه په هغو دواګانو کې هم ګډ دی چې په اسلامي هيوادونو کې توليديږي. زه پخپله پدې کارکې د تائيد اويا رد صلاحيت ځانته نه ورکوم بلکه دا کار دعلمای کرام صلاحيت ګڼم او هغوی ته يې پرېږدم.

پدغې ورځپاڼې کې دنومړې ليکنې سرليک داسې دی: ( الکول دنارينه وو دپاره دزړه دناروغۍ په وړاندې ګټور دی ) او ترسرليک لاندی په نسبتا زيږه خط ليکل شويدي: ( د اړوندو چارو ماهران دا خبرداری ورکوي چې که داډول درمل په ډيره اندازه استعمال شي نو داعتياد لامل ګرځي او مضر پرېوځي ).

را به شو پخپله ليکنې ته چې پښتو ژباړه يې په لاندې کرښو کې وړاندې کيږي:

په ( بي بي سي نيوز ) کې راغلي دي چې که نارينه کسان هره ورځ الکول وڅښي نو دزړه په ناروغيو يې داخته کېدلو خطر تر لويه بريده کميږي. دا دهغو څېړنو پايلو ښودلې ده چې پدې اړوند ترسره شويدی. دا څيړنې په هسپانيې کې پر ۱۵۵۰۰ نارينه وو او ۲۲۰۰۰ ښځو باندې چې عمرونه يې د ۲۹ کلنې څخه تر ۶۹ کلنۍ پورې وو، سرته رسيدلي دي. ددغو کسانو څخه ددوی د الکولو دڅښلو د عادت په هکله پوښتنې شوي او لدې نه پرته يې دلسو کالو په موده کې روغتيايي حالت هم په منظم ډول تر نظر لاندې نيول شوی دی. پر پورته کسانو باندی د څيړنې پر مهال دوی په شپږو ګروپونو وېشل شوي چې په لومړي ګروپ کې يې هغه کسان ټاکل شوي چې هيڅکله يې هم الکول ندي څښلي او په شپږم ګروپ کې بيا هغه کسان راغلي چې هره ورځ يې د ۹۰ ګرامو څخه دزياتو الکولو دڅښلو سره عادت درلود. په ورځ کې د ۹۰ ګرامو نه زيات الکول په هفته کې د ۸ بوتل واينو سره برابر دی. د څيړنو پايلو وښوده: هغه نارينه کسان چې الکول يې په لږه پيمانه ياني هره ورځ يې تر يوه شاټ ( نژدې دوه سانتي ليټره ) په کمه اندازه (ودکا) څښل، دزړه په ناروغيو باندې يې د اخته کيدلو خطر په سلو کې ۳۵ ټيټ وو. په هغو نارينه وو کې چې د ورځې يې د ۳ څخه تر ۱۱ پيکو پورې الکول څښل، په نومورې ناروغی باندې يې د اخته کيدلو خطرپه سلو کې تر ۵۰ پورې کم وو. په څيرنو کې بيا دښځو په هکله د څېړنو پايلې په لوړ ډول نه وي او څرګند توپير يې درلود. پدې اړه دڅېړونکو نظر دادی چې دښځو ارګانيزم د نارينه وو په پرتله الکول په بل شکل تجزيه کوي او ښځينه جنسي هورمونونه د ځوانۍ په سن کې دوی ددغې ناروغۍ په وړاندې وقايه کوي. ډيرۍ ماهران بيا د دوا په پلمه په زياته پيمانه دالکولو دڅښلو سره همږغي ندي. دوی داسې دلايل وړاندې کوي چې په زياته پيمانه د الکولو استعمال ديو لړ نورو ناروغيو د پېښېدو لامل ګرځيدلای شي. دوی دا خبرداری هم ورکوي چې ددغې څېړنې د نتيجو څخه بايد په ډېر احتياط کاروا خيستل شي او نارينه بايد ددغې ناروغۍ د خطر کمولو په هيله د الکولو و ډير استعمال ته زړه ښه نکړي. د ژباړنی پای

د ژباړونکی يادونه:

زه پخپله هم ددغې وروستۍ ډلې پوهانو سره همږغی يم چې نارينه بايد که ددرملو په موخه هم وي، د الکولو د زيات استعمال نه ډډه وکړي ځکه برسېره پر دې چې داکار په الکولو باندې د روږديدو او اعتياد خطر زياتوي، د ډيرو الکولو استعمال دوينو فشار په لوړه کچه جګولای شي چې دروغتيا او په ځانګړې توګه د زړه په ناروغۍ باندې د اخته کسانو دپاره ډير خطر رامنځته کوي.

پای

# ناروې دژوند کولو لپاره بهترین هیواد دی



روس بالت. رو، ژباړونکی: حبیب الله غمخور

دشنبې دورځې (داکتوبر ۳ ) په هغه رپوټ کې چې دملگرو ملتو دسازمان لخوا خپور شو داستوگنې لپاره ناروئ په نړۍ کئ تر ټولو ښه هیوادوپېژندل شو.

د درویتردخبرپه حواله mixnews.lvلیکي چې پدې خپاره شوي لیست کې دلاتویا هیوادپه ۴۸ ،استونې په ۴۰ ،لیتوانیاپه ۴۲ ځای کې قرار لري.

دملگروملتو دسازمان اړونده اداري لخوانوموړې څېړنه اوبرسي د۲۰۰۷ ز کال دهیوادونودکورنیو دتولیداتو دټولیزي کچې یاپه بله اصطلاح دسړي پر سردملي عایداتواوداوسېدونکودعمر داوږدوالي په نظرکې نیولو سره ترسره شوې ده .

دهغومعلوماتو اوفکټونوله مخې چې دنړیوال اقتصادي بحران څخه وړاندي راټول شوی وه په نړۍ کښې تر ټولو هیوادونو په ناروې ، استرالیااو اسلنډ کې داوسېدونکودژوند کچه لوړه ښودل شوې ده.

همدا ډول په ټوله نړۍ کښې دژوند بدترین شرایط اوټیټه کچه دنایجر او افغانستان اوسېدونکي لري.

البته په ځېنو برخو کښې لاتویا لوړمقام ترلاسه کړی ، دبېلگې په توگه پدې څېړنه کې په گوته شوېده دلاتویا دهغواوسېدونکو چې عمر یې تر ۱۵ کال اوچت دی (( ۹۹،۸ )) په سلو کې یې لوستل اولیکل کولای شي.

**نیویارک تایمزهم دیوې امریکایي نشریې په توگه په خپله گڼه کښې پردې اقرار کوي چې افغانستان دنړۍ یوله غریبترینوهیوادوڅخه دی .**

**دژباړونکي یادونه :**

تر کومه ځایه چې دامطلب دلاتویاپه ډله ایزو رسنیو کې خپوراومالـه روسي ژبې نه ژباړلی ځکه خودلاتویاپه اړه ثوځله یادونه شوې .

زما موخه ددې ژباړې څخه داده ترڅوافغان چارواکي دې ټکي ته متوجه شي چې دټولوغولونکو تبلېغا تو اوله بهرنه نه میلیارډنو ډالرو راغلو اوگویا دافغانستان په بیا جوړونه کښې دمصرف شوو پیسو سرۀ بیاهم افغانان دنړۍ تر ټولو دژوند کولو بدشرایط لري. اونړیواله ټولـه باید هم باید دملگروملتو دغې څېړنې اودهغوی پایلو ته جدي پام واړوي چې دخپلو هیوادو داوسېدونکو دخولو اوزحمت په قیمت راټوله شوې مالیه ولې دومره بې ځایه اوبې گټې مصرف شي؟ چې د میلیارډونو ډالرو ترلگښت وروسته بیاهم ټوله نړۍ کښې افغانان تر هرچازیات دژوند په بدترینو اوخوارو شرایطوکې شپې او ورځې سباکوي ؟

ایا غربي نړۍ او امریکاددې لپاره راغلي وه چې داتو کلونو په تېرېدوسره بیاهم موږ شاته پاته هیواد اودپای لخوا لومړۍ مقام ولرو؟

دپر مختللي اوغښتلي اقتصاد لرونکي هیوادوسره ددوستۍ اونږدې اړیکو پایله همدا وي ؟؟؟

امریکااواروپایي ټولنه ددغه خپاره شوي رپوټ نه وروسته دخپلو هیوادو خلکو ته په څه او څنگه قناعت ورکوي ؟ چې ددوی پیسې څه شوې ؟ دڅه لپاره اودچاپه گټه ولگېدې ؟؟؟

داچې ویل کېده افغان ولس ته دبنسټپالو ،غلو ،داړه مارو ،دموکراسی دښمنو ، ټوپکسالارو، هیرئینو دپټو او ښکاره سوداگرو، دکوکنارو درواجوونکو ، دعلم اوعرفان ددښمنانو څخه نجات ورکوو، اوافغانستان به ډیر ژریوپر مخ تللی هیوادوي ، دا دغه پر مختگ تاسو غوښت ؟ تاسو داټولې پیسې او وسلې ددې لپاره ولگولې چې په وسلو شړلې پر وسلو بارگاډوبیرته په مختلفو بهانو اومختلیفونومونویوځل بیا دولتي واک ته ورسوئ اوخپله ددې ځای نه پښې سپکې کړئ؟

که داخل موپه هره بڼه اوهرنامه دغه ددموکراسۍ غولېدونکی نیم بنده بهیر ناکام اوافغان ولس موبیادپردې شاته خپلوساتلو ملاتړو او خواخوږوته پرېښود پایله به یې په ټوله نړۍ کښې دبربریت اوترهگرۍ خپرېدل ،ددموکراسۍ اوتمدن پر خلاف ددتېروپېړوپه دودقدعالم وي ، دنیوپارک پېښه به په سترگو پوري رانجه کړی.

نړیوال باید پدې پوه وي چې دافغان ولس په وړاندې اخلاقي اوحقوقي مسئولیتونه لري.له یوې خوائي داله خلکو ببگانه دولت په مختلفو مرحلو پر خلکو وروتپئ اودبلې خوا اوس داسې ښکاري لکه شورویان دپښو سپکېدولپاره دوړو پزه ځانته جوړوي.

زما داخبرې ددې معنا نلري چئ زه دبېگانه وو له شتون سره موافق یم ،خوښتـن اوس زموږ ولس دغه حالت ته رسولې ،دومره خوار او بې وسه کړی که یو بېگانه وځي نو دابل بیا ملاتړی اومټې رانغښتی ورته ناست دی. ځکه نوباید نړیوله ټولنه دافغانستان دمسئلې دا سیاسي عادلانه حل لاره ولټوي



چي له یوې خوادافغان ولس دستونزودهواری اودبلې خوادبهرنیانو د ابرومندانه ستنېدو لپاره امکانات برابر شي.

زموږ هیوادوال باید پدې پوه وي دغه منډې تړې چې همدا نن دبهرنیانو اوافغان چارواکو له خوا رواني دي زموږ دهیوادراتلونکې له نوروبدو ،اوخورا زورونکوبدبختیواودهیواددبربادۍ په لوردرومي.

دلته دډیرې بدو اوافغان دښمنه،دسیسو اوپلانونودطرحو اوپلې کېدو لپاره مرموز کارونه ترسره کېږي ،هغه چې پرخپل هیواد او دې زوریدلو هیوادوالوئي زړه خوږېږي اوسالم وجدان لري باید دغو لوموداوسیسو ته جدي پاملرنه وکړي . دا ډیرد شرم ځای دی چې په خبرو اوسیاسي تبصروکې هغه دچا خبره دنړۍ ټولو جمهوررئیسانو او سیاستمدارانوته عقل ښیواوتر هر چا ځانونه پوه اوهوښیار بولو ، خوخپله مودسفر اومزل مرهتې په ختو کښې بند اودادی یوځل بیادملگروملتودسازمان په کلنۍ څېړنه کښې ثابته شول چې دافغان له بېغورۍ نه افغانستان دنړۍ تر ټولو شاته پاته هیواد اواوسېدونکي یې دنړۍ تر ټولو بدبخت اوپه خواریو ککړ انساني ژوندلري .یاپه بله اصطلاح په ټوله نړۍ کښې تر افغان غریب او بېچاره نشته.

پدې هیله چې افغانان په ځانگړي توگه چیزفمه اوهغه چې توان لري دا ماته کښتۍ ددریاب غاړې ته ورسوي په خپل مسؤلیت پوه اوخپل دبام واوره دنوروپر بامو ونه غورځوي ،یوه گوته بل چا اوڅلورځانته ونیسي.

ومن الله التوفیق

له هندي منابعو څخه ، ژباړونکی : حبیب الله غمخور

# دهندوستان سېلاب پنځه میلیونه وګړي بې سرپناه کړل

نوی ډهلي:



ډېرو تېزو اوبې ساري بارانوداوربېدوله امله دکارناتاکا او اولتراپردیش په ایالتونو دسېلابودراتګ په پایله کښې لږ تر لږه ۲۵۰ کسان وژل شوي اوتر پنځه میلیونه زیات کسان بې کوره شوي دي .
دکارپوهانو په وینا پدې سیمه کښې داوروستي سېلاب پدې وروستیو لس زره کالوکښې یو بې ساري سیلاب وو.
ددې سیلاب په پایله کې یوازې دآندراپردیش په ایالت کښې ۴۰۰ قریوته سخت زیان رسېدلی ،همدا ډول د کورنول، محبوبنګر، کریشنا و ګونټور سیموته هم زیات زیان اوښتی دی.
هغه باران چې یوه اونۍ وړاندې دآندراپردیش په ایالت کې پیل شوی ،د زیات اورښت له کبله په ځینو سیمو کښې داورښت کچه تر ۳۰ ملي متروپورې رسېږي .
تر اوسه په میلیونوهکتاره زراعتي ځمکې دهغه جملې نه دکارناتاکا دنیشکر زراعتي ځمکې چې په هندوستان کښې دبورې دریم تولید کوونکې سیمه شمېرل کېږي له منځه تللي ،داویره شته چې پد ایالت کښې به دبورې دتولید کچه راټیټه شي.
همدا ډول وړاندوینه کېږي چې دآندراپردېش په ایالت کښې دجواروکښت دحاصیلاتوکچه به تر یو میلیون ټنه پورې راکمه شي .
داپداسې حال کې ده چې ددغه دو ایالتونودزراعتي ځمکوڅخه دهندوستان ۳۵ په سلوکې دجوارو حاصلات تر لاسه کېږي .
تر ۵۵۰ زیات نظامي ځواک ،شپږهلیکوپټري ،زر نفره آب بازان ،۲۵۴ وړې کښتۍ په مصیبت ځپلو سیمو کښې دخوړو او مرستې رسولولپاره په دنده ګمارل شوي دي. مرسته رسوونکو تر اوسه ۲۰۰ زره کسان دخطر له ځایه راایستلي ،اوهغه یې په ۱۲۰۰ موقتي مرکزونو کښې ځای پر ځای کړي دي. همدا ډول تر ۱۰۰ په زیاتو قریو کښې بېړنۍ حالت اعلان شوی دی.
پای

ریانوستي.رو، ژباړونکی: حبیب الله غمخور

# ایراني توغندیو د نړیوالې ټولنې په اعصابو لوبې وکړې



تهران یوځل بیادنړیوالې ټولنې صبر او حوصله وآزمویل او د ستر پیغمبرخلور په نامه د دغو پوځي تطبیقاتو په یوې برخه کې ئې ددوشنبې په ورځ دسپتمبرپر ۲۸ سهاروختي یې څلور دمنځنۍ واټن ویشتونکي توغندي اوهمداډول دشهاب درې په نامه ئې دلیرې واټن ویشتونکي توغندوي وآزمویل . شهاب درې کولای شي په اسرائیلو کښې هدف له منځه یوسي . پسله هغه دایران پوځیانو سونګ د جامدو موادو څخه جوړه یوبل دوه پله یې توغندی دسجیل توغندي په نامه دتوغولوآزماینبت په بریا تر سره کړ دا توغندی هم ۲۰۰۰کیلومتره لیرې واټن په نښه کولای شي .
ایران دیکشنبې په ورځ (د سپتمبر۲۷ ) دشهاب یو(۱) اوشهاب دوه(۲) په نوم چې د۳۰۰ او ۷۰۰ کیلومتروپه واټن اهداف په نښه کولای شي توغندي وآزمویلې ، د راپورونو له مخې دغه توغندي څو ډوله سرګلولې لیږدولی شي.
د ایران دپاسداران انقلابي د هوایي ځواکونو قوماندان جنرال حسین سلامي وویل: توغندیو توغول په بري سرته ورسېدل اوپه نښه شوی ځایونه ئې وویشتل.
تر دغه وروسته ددوشنبې په ورځ ایران یوبل توغندی د شهاب درې په نامه لیرې واټن ویشتونکی توغندی چې ویل کېږي دوه زره کیلومتره واټن وهلی شي هم وآزمایه . ایراني پوځیان وایي داتوغندی تر پخوانیو طوغندیو ډېر دقیقي اوله تخنیکي پلوه په جوړېدوکښې ئې له نیو سیستمونونه استفاده شوې ده . پوځي کارپوهانو په وینا داډول توغندی دفارس په خلیج کښې دامریکا پوځي اډو ته ګواښ بلل کېدای شي .

محمد نعمان دوست

# حضرت یوسف (ع) ته !

ای د خدای نیازبین پیغمبره !
ای د خوبونو رښتنیه تعبیر کونکیه !
تا چې د مصر په زندان کې د کوم بندي خوب تعبیر کړی و ، رښتیا شو.
تا د هغه زنداني سرې خوب چې پر سر یې د ډوډۍ شکور و او مرغانو ترې تښتولې وي ، تعبیر وکړ چې عمر یې ختم دی او په دار به وځړول شي ، رښتیا هم همداسې وشو.
ای تر ټولو انسانانو حسینه پیغمبره !
موږ هم یوه رښتني تعبیر ته اړتیا لرو.
زموږ له لاسونوهم خلک ډوډۍ تښتوي.
زموږ په نوم راغلې د سوال پیسې د څو جنابانو جیبونو ته ځي.
موږ په تناکو لاسونو ګټلې پیسې د دې لپاره ورکوو چې په عریضه مو یو تش لاسلیک وشي.
له موږ نه په هغو ادارو کې هم پیسې اخستل کېږي د کومو په دیوالونو چې (و اذا حکمتم بین الناس ان تحکموا بالعدل ... الایه ) لیکل شوی وي .
خو ای د خدای ج نیازبین پیغمبره !
دا خوب نه دی
دا هر څه دلته په وینه کېږي.
د دې تعبیر له چا وغواړ ؟
موږ په داسې زمانه کې ژوند کوو چې په ډېرو رښتینو یې هم باور نشو کولی.
خو که موږ ستا په تعبیر قیاس وکړو نو دوه نتیجو ته رسېږو.
یا زموږ د ولس عمر ختم دی او یا د دې نظام !

عبدالرحمان حبیب زوی

# اختریز دودونه

اختر د خوشالۍ او خوښۍ جشن ته وایي، چې د نړۍ ټول مسلمانان یې په کال کې دوه ځلې د درې ورځو په لړ کې لمانځي، خو افغانستان کې په غیر رسمي توګه د اختر جشن یو څو ورځې ډیر لمانځي .د اختر د لمانځنې دودونه په هره سیمه او مینه کې توپیر لري.د افغانستان په مرکزي ولایت لوګر کې خلک د اختر په لومړۍ ورځ راټول شي او تر لمانځه وروسته په جومات کې هر سړی له خپل کور څخه یو څه راوړي او له نورو کلیوالو سره په کډه د سهار چای څښي.بیا ټول خلک خپلو هدیرو په لوري ځي او خپلو مړو ته دوعاوې کوي، کله چې دا مراسم سر ته ورسیږي نو بیا هر قوم تر هر څه د مخه تر ټولو مشر او سپین ږیرې کورته په یوځایي توګه ورځي.

تر دې دودونو وروسته د اختر ډوډۍ ده چې دا هم ځانته مراسم لري هغه داسې ده چې تر اختر د مخه د کلي خلک سره راټول شي او دا ختر د ډوډۍ مراسم په کورونو ویشي یانې مشران پریکړه کوي د اختر لومړۍ ورځ دغرمې ډوډۍ به د فلاني کره خورو او د ماسخوتن ډوډۍ به د بل کلیوال کره خورو په دې ډول د اختر د غرمې او ماسخوتن ډوډۍ په په درې څلورو ورځو داسې ویشل کیږي، خو له بده مرغه چې د اختر د ډوډۍ دود یوازې په نارینه وو کې دود دی او ښځینه ترې محرومې دي.

خو د افغانستان په سویل ختیځ یوه بل ولایت پکتیا کې د اختر د ډوډۍ دود داسې دی چې د کلي ټول وګړي په یوه کور کې میلمانه وي.دوی د کلي ټول کورونه سره ویشي په داسې توګه چې پنځه کوره په غرمه کې د یوه کور میلماني وي او پنځه نور کورونه بیا په ماسخوتن کې دبل کلیوال کره میلمانه وي او ترې څلورورځو پورې دا لړلی روانه وي او کال په کال دا نوبت نورو کورنیو ته اتقال کوي خو ددې میلمستیا توپیر له لوګري میلمستیا سره په دې دی چې په دغه اختریزې ډوډۍ کې ښځینه خپلوانې هم برخه لري.او په ګډه سره ډوډۍ خوري او یو بل ته د اختر مبارکي ورکوي په دې میلمستیا کې کوربه او میلمه ټول نږدې خپلوان وي.

زمونږ د ګران هیواد افغانستان په ځینو نورو سیمو کې د اختر په لومړۍ ورځ ځانګړې تفریحي میلې وي لکه نښې ویشتل،د موسیقۍ بنډار ډولونه وهل کیږي او ځوانان ورته ځښې اړوي.ډا ډ ،ل دودونه په سویلي سیمه کې ډیر تر سره کیږي.د برې پښتونتخوا په ډیره اسماعیل خان سیمه کې د ځانګړو میلو دود اوس هم ژوندی دی دا ټول دودنه زمونږ د لرغونې کولتوري هیواد ویاړنې دي او پرته له شکه چې د افغانستان هره برخه هم دې ته ورته یا تر دې لا ښه اختریز دودنه لري خو که د بهرنیو کولتوري یرغل مخ نیوی ونه شي نو ډیر ژر به ددغو ښو او با ارزښته کولتورونو ځای به د ودونو او زوکړې د کالیزو مراسم به یې ځای ونیسي.ځکه افغانان تر خپل ډول نه د پردیو ډولونو ته ښه ګډیږي.

اوس دې ټکي ته راځو چې ځینې دودونه پّه افغانستان کې په ټولیزه توګه یو ډول تر سره کیږي لکه د احتر لمونځ .د اختر په هر هغه څوک چې له یو بل نه خپه یا دښمن وي سره پخلا کیږي او که سره پخلا نه شي نو نور خلک هڅه کوي څو د دوو مرورو تر منځ جوړجاړی راولي.ی و کولتوري روایت داسې دی چې وایی د اختر پّه لمانځه کې حضرت خضر (ع) هم ګډون کوي او کله چې لمونځ پای ته ورسیږي او د روغ بړ او اختر مبارکۍ وخت شي نو په دې وخت کې خضر ځان دیوه چا د دښمن په څیره کې جوړوي او خپل ځان هغه ته ورښکاره کوي او ورنژدې کیږي او غواړي چې ورسره روغ بړ وکړي.خو که هغه کس چې خضر ورته د دښمن په څیره ښکاره شي که له روغ بړ څخه ډډه وکړي نو ډیر زیات تاوان به وکړي هغه ځکه خلک وایي چې په دې ورځ که څوک د خپل دښمن سره روغ بړ وکړي نو د ښې لاس غټه ګوته دې ومرورې د غټې ګونې هډوکی یې نه و نو پوه دې چې دا د ده دښمن نه دی بلکې خضرع سلام دی او په هغه شیبه چې هره غوښتنه څوک له خضر علیه سلام څخه وکړي خدای یې په نصیب کوي او د نړۍ نیکمرغه انسان ګڼل کیږي.

د پښتو ګړنیز ادب په لنډیو کې هم اختر د دوو مرورو د پخلا کیدل ورځ ګڼل شوې ده.

اختر ته ځکه خوشالیږم
چې مرور اشنا به ما پخلا کوینه
اختره ډیر دې احسان مند یم
چې مرور اشنا مې غیږې له راځینه
اختره څومره بختور یې
چې دوه یاران یو بل ته غیږې ورکوینه
اختر یو لویه خوشاله وي
چې زړونه اخلي پرې د عمر پیوندونه

د اختر بل دود دادی چې شتمن کسان ورکې خپل ذکات وباسي په کلي او بانډو کې دود دا دی چې خلک خپل ذاکات او سرسایه د دې پر ځای چې بیوزلو او غریبانو ته ورکړي د جومات ملا امامانو ته یې ورکوي چې اسلام او ملایانو ته د درناوي بیلګه ده.پر دې برسیره خلک د جومات ملا ته د اختر مبارکې په ډول د خپلې وسې په اندازه پیسې ،څوک دستمال او څوک چرګان او یا کالي ورکوي.دا دود د کوچنیانو په فوکلوریک ادب کې هم یاد شوی دی. لکه

اختر دی بختور دی
د ملا کره چورګوړی خېټور دی

یا په دې لنډۍ کې

خوله د ملا د لور مزه کړي
د سرسایې چرګان یې ډیر خوړلي وینه

اختر د ددوو زړونو د یوځای کیدو ورځ ده او له زړونو څخه د کرکې د شړلو او د مینې د جونګړې د جوړولو ورځ ده.

اختر نژدې ده یاره راشه
مبارکې به یو او بل له ورکوونه

اختر د دوو مینانو د لیده کاته ورځ ده او چې په دې ورځ کې د دوو مینانو لیده کاته ونه شي نو هیڅ اختر یې نه بولي.

اختر به وي جانان به نه
وي
خدایه ته ورک کړې بې
دیدنه اخترونه

**اختره تل تر تله اوسې**
**چې د بېلتون په کور**
**کې تر مرګه وي ویرونه**

هیله ده چې سږ کال لوی اختر په هیواد کې د ټولنیز ټیکاو او نیاو شږم وي.

**Nawey Hilla نوې هیله**
**د امتیاز خاوند**: په سویډن کې د افغانانو علمي او کلتوري مرکز.
په سویډن کې د نوې هیلې خپرونه د لیکونکې ډلې ترنظر لاندې خپریږي.
مسئول مدیر: **هیواد شېرزاد**.
پوستې پته:
**Sherzad**
**Snödroppsgatan 30**
**215 27 MALMÖ, SWEDEN**
ټیلیفون ...... **0046-40-6023522**
برېښنالیک
**naweyhilla@gmail.com**
تاسې کولای شئ د نوې هیلې ټولې ګڼې په لاندې انټرنټي پته ولولئ
**www.hewad.com/naweyhilla**

محمد حسن حقیار

# اختر د اسلامي امت د ټولنیزې خوښۍ ورځې ؟

دادی د نړۍ مسلمانان د ۱۳۸۸ هجري لمریز کال د لوی اختر د لمانځلو په درشل کې دي. افغان مسلمان ولس هم د اسلامي نړۍ د ستري کتلې دیوې برخې په توگه د نېکمرغه لوی اختر له ورځو سره مخ کېږي او حق لري چې دا ورځې په خوښیو ولمانځي. دا یواځې افغانان او په ټوله کې مسلمانان ندي چې د اختراو د خوښیو ځانگړې ورځې لري بلکې ، هر قوم ، هر ملت ، هر دین او مذهب ځانته د دیني او ملي خوښیو ځانگړې ورځې لري.

خو افغان ولس په داسې حال کې له دې ورځو سره مخ کېږي چې تر بل هر وخت یې ژوند ډېر نامطمئنه ،هېواد یې ډېر ناامنه ، اقتصادیې ډېر کمزوری ، هیواد یې د پردیو لخوا له گواښ سره ډېر مخ او دیوې شېبې مطمئن ژوند هیله هم نلري. هره شېبه ورسره وېره وي چې اوس به یا د بې دوه پنځوس د بمبار او یا د کوم بهرني د ټوپک ښکار گرځي او یا به د کوم سرتېري برید په پایله کې هغې دنیا ته کډه کوي.

د دې ټولو اندېښنو او پرځای تشویشونو سره بیا هم د اختر په خوښیو کې گډون کول د الله امر دی او مسلمانان باید پخپل دې مذهبي جشن کې ونډه واخلي. اختر کوم شخصي رسم او یا د کومې ځانگړې قبیلې دود ندی بلکې د ټول اسلامي امت گډ اسلامي کلتور او گډ دیني او بین الاسلامي جشن دی نو ځکه ټولو مسلمانانو ته پکار دي چې دا د خوښۍ ورځې په گډه ولمانځي او له خوږوبې خوند واخلي.

لوی اختر هم د هغو ورځو په ډله کې دی چې اسلام پکې مسلمانانو ته په ستر ازمېښت کې د بریا په بدل کې د شکرانې په توگه په خوښ او سېدلو او د دې ورځې په نمانځلو امر کړی دی.

څرنگه چې د الله جل جلاله په هر کار کې حکمت وي نو د اختر په خوښۍ کې هم د الله جل جلاله ډېر حکمتونه او ډېر برکتونه نغښتي دي ، مثلاً شتمن او په نس ماړه مسلمانان باید له نېستمنو او بېوزلو سره مرسته وکړي، بې وسه او نیستمن گاونډیان یې په یاد شي، له هغو سره په مرستې کولو هغوی هم په دې خوښۍ کې ورگډ کړي.

د اختر غوښتنه داده چې باید د ژوند له ستړ و ځو شېبو څخه راحت، نشاطت او روحي او جسمي تفریح ته مخ وکړو ، ځوشېبې د دنیا غمونو ته شا او د دنیا له مشروعو خوښیو خوند واخلو.

خو باید پام مو وي چې په اختر کې نیستمن او اړ خلک هېر نکړو ، له هغوی سره مرسته زموږ دیني او اخلاقي فریضه ده د سرسایې د وجوب او د قربانۍ حکمت دادی چې چې باید نیستمنو ته دا زمینه برابره شي چې د اختر په خوښیو کې گډون وکړي ، اسلام وایي چې د دې خوښیو له مزیتونو څخه باید ټول برخمن شي ، ټول خلک که هغه نیستمن دي ، که شتمن د هر قوم او هرې سیمې چې وي باید په دې خوښیو کې گډون وکړي او اسلامي ټولنه دې ورته د گډون زمینه برابره کړي. نو راځئ چې په دې خوښیو کې نادارو او نېستمنو ته هم د گډون زمینه برابره او په دې ډول د الله ج رضا ترلاسه کړو.

ښه مسلمان هغه دی چې د الله جل جلاله د رضا لپاره له خپل سر ، اولاد او شتمنۍ هر څه څخه تېر شي.

همدا راز د اختر بله فلسفه او غوښتنه داده چې مسلمانان باید د دې ورځو په خاطر له خپلو نورو مسلمانانو وروڼو سره د دښمنۍ، حسد او کینې په اور د دوستۍ او ورورۍ اوبه وشیندي.

زړې ترخې خاطرې هېرې کړي او له سره د ورورۍ په فضا کې نوی خوږ ژوند پیل کړي.

د اختر په لومړۍ ورځ د لمانځه دا داکولو مهمه موخه داده چې مسلمانان دیوبل له ستونزو ، حال احوال ،دردونو ،خوښیو څخه خبرشي ، وروري او یووالی وښیي. نړیوالو ته خپل وگړنیز قوت او بین الاسلامي وحدت څرگند کړي. د رمضان په میاشت کې خلک پوره یوه میاشت د الله د رضا لپاره ټوله ورځ نه څه خوري ، نه څه څښي او نه خپل جنسي غرائز خړوبوي. او په لوی اختر کې هم قربانۍ کوي د خپل ستر نیکه او د انبیاوو د سالار حضرت ابراهیم ع لاره ژوندۍ کوي نو په اخترونو کې باید خوښي او خوشحالي وکړي ،د الله هغه نعمتونه چې لاسته ورتلل یې ورته اسانه وي باید وخوري او په خوښیو کې گډون وکړي.

نو راځئ چې موږ او تاسو هم د اختر له غوښتنو سره سم له نیستمنو او بېوزلو سره مرسته وکړو ، د لوېدلي لاس ونیسو ، هغوی ته هم تر خپله وسه د اختر په خوښیو کې د گډون زمینه برابره کړو .

راځئ چې د دې مبارکو ورځو په خاطر له هر ډول دښمنۍ څخه لاس واخلو هغه که شخصي او کورنۍ دښمنۍ دي او که سیاسي مخالفتونه.

راځئ چې نور د خپلو ورونو وینې تویې نکړو ، راځئ چې نورې د ځوانانو جنازې ونه باسو ، راځئ چې نور دا درد ېدلې او رنځېدلې مېرمنې کونډې ، بورې او بې وروره نکړو .

راځئ چې نور د نورو په لمسون او د نورو د خوښۍ لپاره له خپلو معصومو کوچنیانو د هغوی د پلرونو له عاطفې او مینې ډک سیوري وانخلو.

زموږ په اند جنگ او جگړې د رواني جگړې د حل لار نه ده او د قضیې او جگړې دواړه اړخونه باید د زور او ټوپک له لارې د بلې خوا د حذف کولو او له منځه وړلو هڅه ونه کړي

د اختر ورځې د خوښۍ ، پخلاینې ا و ورورۍ ورځې دي نو د جگړې دواړه خواوې باید د همدې ورځو په خاطر له جگړو او د مسلمان ورورله وژنو او د خپل هېواد له کنډر کولو څخه خلاص واخلي.

نور دې د پردیو د خوښولو لپاره د خپل ورور وینې نه تویوي، نور دې دواړه خواوې داسې زمینې نه برابروي چې په نتیجه کې یې زموږ ویجاړ وطن نور هم وران شي، د وینو د تویولو پر ځای دې له خپلې ستونزې د تفاهم او مذاکراتو له لارې حل کړي ،د جگړې عوامل او پلمې دې له منځه یوسي.

زموږ په فکر صبر، زغم او تفاهم د رواني جگړې د حل ښه لاره ده او موږ هم باید همدا وسله وکاروو او که له دې وروسته څوک یواځې په جگړې او وینو تویولو اصرار کوي نو په دې دې پوه شي چې افغان مسلمان ملت به یې هېڅکله هم معاف نه کړي او تاریخ ته به هم سپین مخ ونه لري.

له دولت څخه هم زموږ غوښتنه داده څرنگه چې افغانستان د ټولو افغانانو گډ کور دی نو د همدې اصل له مخې باید ټولو افغانانو ته له هر ډول استثنا پرته په خپله خاوره کې د اوسېدلو او خپل ولس ته د خدمت کولو زمینه برابره کړي.

دولت باید په پردیو هېوادو کې مېشتو مهاجرینو ته خپل هېواد ته د راستنېدو زمینه برابره او اوزگارو خلکو ته چې د کورنۍ او بچیانو نفقه ورپه غاړه ده کار او روزگار ومومي.

دا حقیقت دی چې ښوونه او روزنه د دنیا او اخرت د بریالیتوب لپاره ډېره مهمه ده او له زده کړې پرته هوسا ژوند ناشونی ندی خو زموږ ډېر کوچنیان تراوسه هم له زده کړې ،ښوونې او روزنې څخه بې برخې دي نو دا د حکومت دنده ده چې د هېواد ټولو نارینه او ښځینه کوچنیانو ته د ښوونې او روزنې مناسب شرایط برابر کړي.

په پای کې خپلو ټولو هېوادوالو ته د نېکمرغه لوی اختر مبارکي وایم. هوسا ، ارام ، او په خپل کوراو وطن کې خوښ ژوند ورته غواړم.

---

فرید بزگر

# ښاغلي کرزي ته!

د ولسمشرۍ منصب دې بیا مبارک شه !

هیله ده چې تیرو پنځو کالو د رته دوست او دښمن ښه درپېژندلی وی، زه نه پوهیږم چې تاسی ته د ملت غږ په څه ډول د ر رسیږي، هغی ته به څومره نور رنگونه ورکول کیږي، ښایې د ولس غږ څخه یوازی (و) یا یوازی (غ) یا یوازی (ل) او یا ممکن له دی څخه ډیر کم یې تاسی ته درورسیږی، هغه هم د هغو وگړو چې تا ته نږدی د غږ رسولو څوک ولری.

افغان ډیر بدمرغه ولس دی، ځکه چې دوی خوښی کمه او غم ډیر لیدلی دی. دې ۳۰ کلنو دوی د غم او ژړا روږدي کړي دي. د ډیرو یې خندا له یاده وتلې ده، دوی په مختلفو بهانو وژل شوي، رټل شوي، ځوریدلی، ژړیدلی، کړیدلی...

خو دوي ډیر باپاسه خلک دی، زړونه یې پاک او له مینې ډک دي. دوی خوش باوره او پاک زړي دي، د چا په لږ احسان له خپل سر څخه هم تیر دي.

د هغوی په سیمو کې د جنګ د وجوهاتو په لټه کې شه، هغوی هم لکه د نورو په څیر انسانان دی، او هیڅوک نه غواړي چې جنګ وکړي، تر څو چې بله چاره و نه لري (وایې چې تنګ شي نو په جنګ شي)

د هغوی غمونو او وژنو ته د پای ټکی کیږده، چې د هغوی سره د غمرازی د څرګندولو پر ځای د هغوی په خوښیو کې برخمن شې.

د هغوی په سیمو کې د ښوونځیو د سیزلو او د هغوی او د هغوی د مشرانو د وژلو مخه ونیسه.

د ملت او حکومت تر منځ رامنځ ته شوی واټن کم کړه، او دا هله کیدونکی دی چې ستا کاري ټیم تاسې او ملت ته مخلص وي، د ملت له حقایقو تاسې او نړیوال په ښه ډول خبر کړي، نه چې هغو ته د خپلو ګټو او د نورو د خوشحالولو لپاره بله بڼه ورکړي.

اوس مهال هم ډیر خلک له دې ډاره چې فارسي یی نه ده زده، کابل ته د ډیر ضروری کارونو لپاره د تګ جرائت نه کوي، اوس هم په کابل کې ډیری پښتانه په پښتو ویلو ځوریږي، رټل کیږي او ډیر پښتانه په دې بهانه چې په فارسي نه پوهیږي د بهرنیانو په نامه زنداني او ځورول کیږي. چې دا ټول د دې باعث کیږي چې د ملت او حکومت تر منځ واټن لا زیات شي. او دا واټن هغه حلقې ډیروي چې په حکومت کې ډیر قوي دی او په دې واټن راوستلو کې یې ګټې نغښتې دی، او نه ملت، نه تاسې او نه هم نړیوالو ته مخلص دي.

هیله ده چې د ملت دا غږ درورسیږي، او تر خپله وسه یې په عملي کولو کې هڅه وکړئ.

محمدضریف عنایت زی

# ولور

څلورکاله وړاندې زلمي دواړې پښې په یوه موزه کې کړې چې هرومروبه د برکلي د مامورسلطان لورسپینه ورته کوي سپینه خوپه ریښتاچې سپینه اوښکلې وه ډیرو ځوانانو به دهغې دترلاسه کولو لپاره په زړه کې ګوړې ماتولې ،خوزلمي یې لیونی کړی وسپینه ورته دنړۍ ترټولوښکلې اومینه ناکه ښکاریده بې له هغې یې ځان اوژوند نیمګړی احساساوه ،کله چې د زلمي پلارخان میراکا د مامورسلطان کورته د مرکې لپاره ورغی د نجلۍ پلارږټ ځواب ورکړاوډیرپه تونده یې خوارکي ته وویل: ته څه شئ لرې چې زه خپله لوردرکړم نه ځمکه لرې اونه هم شتمني ، ورځه چې بیا دې خواته راوهم نه ګورې تانوڅنګه زړه ښه کړچې زماغونډې د یوه شتمن لوردخپل زوي لپاره غواړې بدبخته.

په ریښتیا هم چې دزلمي کورنۍ ډیره بې وزله وه خوپه دینداری اوپه کلي کورکې په ښه راشه درشه کې یې جوړه نه وه ،کله چې خان میراکا کور ته راستون شوخپلې کورنۍ ته یې دمامورسلطان د دې ناوړه چلندکیسه وکړه ، زوي یې ډیرخواشیني شونورنویې خوب اوخواړه په ځان حرام کړل یوسودایې ترې جوړشود څه مودې په تیریدو سره یې رنګ تک زیر اوپه تن هم ډنګرشوپلاریې ډیرورته خواشینی وچې خداي مکړه دغه یوازینی زوي په دې مینتوب کې له لاسه ورنکړي له همدې امله یې دوه ځله نورهم دنجلۍ کورته مرکه ورولیږله لنډه دا چې په وروستي ځل مامورسلطان په هوخوله کیښوده خوډیرزیات ولوراونورلګښت یې ورته وټاکه چې ګوندې خان میراکابه ترې تیر شي اودرنه تیږه به پرې کیږدي خوله دې چې دزلمي پلار ښه پوهیده که دانجلۍ ورته ونه کړي نوزوي به یې له لاسه ورکړي له همدې امله یې همدادروندولورومانه اودعایې سره وکړه.

دزلمي دزړه هیله پوره او مینه یې په وصال بدله شوې وه اوله دې امله له خوښۍ په جاموکې نه ځاییده ،خوله بلې خوادولوراودواده دنورلګښت په اړه ډیراندیښمن وچې دا دومره پیسې به له کومه کوي ،دواده دستمال یې چې راوړ،دکلي ځوانانو او پیغلوښه اتڼونه پکې وکړل اومتې یې پکې وغورځولې. د دستمال له راوړودرې ورځې وروسته زلمي خپل پلار ته وویل: دادروند ولورچې د پردي وطن په مزدورۍ پوره نکړم بله لاره نشته ، پلاریې هم ورسره ومنله اومساپرۍ ته یې مخه کړه له ډیروسختولاروا او ورځوورځو مزل وروسته ګاونډي هیوادته ورسید له هماغه وخته یې له هیڅ ګران کاره مخ نه ګرځاوه اوپه هر کار کې به چې پیسې زیاتې وې ترسره کاوه به یې ان د شپې لخوابه یې هم کارکاوه په دې موده کې خویې څوځله لږاوډیرې پیسې هم پلارته راولیږلې چې خسرته یې ورکړي څو ولورلږسپک کړي دزلمي مورڅوکاله وړاندې مړه شوې وه د کورکاریې دکوچنۍ خورپرغاړه وچې یوازې داتو، نهوکلونووه خوپلاریې چې کله پیسې ولیدې نود واده کولوتلوسه یې په زړه کې رازغونه شوه دې هوس یې ورځ په ورځ په زړه کې ټوپونه وهل هماغه وچې په واده پسې سرشوپه کوزاوبرکلي کې یې ډیروکورونو ته ریباران ورولیږل خوچاداسې زاړه سړي ته چې په خوله کې یې یوغاښ نه واو ږیره یې هم سپینه وه خپله لورورکوله ،هماغه وچې په ډیرلیرې ځاي کې یې دیوه بې وزله سړي لوردځان لپاره وکړه هغه سړي هم یوازې د پیسولپاره خپله لور بوډاته ورکړه ،خان میراکادزوي د واده دولورپیسې د ځان په واده ولګولې څه موده وروسته یې زوي هم خلکوخبرکړچې پلاردې واده وکړزلمی ډیر خواشینی شو، خوبیا یې هم خپل همت له لاسه ورنکړاوکارته یې دوام ورکړکومې پیسې به یې چې پلارته رالیږلې نومورې به د چاخبره ګوړه اوګازرکولې هغه متل دی چې مورمیره شي نوپلارهم پلندر،شپې ورځې تیرېدې هرڅوک به چې له مساپرۍ خپل کلي ته راتلل ټولوبه د زلمي په میړانې اوسختیوافرین وایه ، زلمي خوارکي پلارته پیسې رالیږلې چې د هغه د واده تیاری ونیسي. څلورکاله یې په مساپرۍ کې تیرکړل اوس نوډاډه وچې له نیمایي زیات ولورخویې ورسولی اودپاتې ولوراود واده د لګښت پیسې یې چې پوره کړې ډیرپه خوښۍ یې دسفرپیټۍ وتاړه اودوطن په لورروان شو، په لاره یې یوازې له خپلې یوازینۍ مینې سره دلیدوفکرکاوه کله به یې ویل چې څنګه کلي ته ورسیدم سمدستي لومړی دهغوي کره ورځم ،کله به یې ویل نه زیری به ورولیږم چې مخې ته مې راووزي کله به یې یواوکله بل څه په فکرکې راګرځیدل ، هاخواسپینه هم چې اوس ښه په ځان باندې پیغله وه اودا څلورکاله یې د خپل خاوند د راتلولپاره شیبې شمیرلې وې له څو ورځو راهیسې چې د زلمي په راتګ خبره شوې وه هرڅه ورته ښکلي ښکاریدل ،هرې خواته د مینې اوخوښیو نغمې په غوږونوکې ورته انګازې کولې اوس یې نود هغه د راتلولاره څارله دا د هغې لپاره له اختره هم ښې ورځې وې چې د زلمي د راتګ زیری پرې شوی و، زلمي له خپلودوونورو کلیوالوسره دوطن په لورروان شودریمه ورځ وه چې دقاچاقبروپه واسطه له نوروډیرومساپروسره پولې ته راورسیدل کله چې له موټره راکوزشول، هغه وچې له پولې راتیر او خپلې خاورې ته راننوزي په دې وخت کې له هغې غاړې د پردي هیواد پولیسوګزمه ورته راورسیده اوددریدولپاره یې پرې غږوکړ خو قاچاقبر دوي له دریدومنعه کړل کله چې مساپرومنډه کړه له هغې خواد پولیسو د ډزوباران شواوپه یوه شیبه کې کراره کراري شوه قاچاقبرله سیمې پښې سپکې کړې وې پولیسوفکرکاوه چې ټول یې وژلي دي اوپه ډیرویاړ !!! سره بیرته له سیمې روان شول کله چې د سیمې خلک راغلل ګوري چې څو تنه مړه اونورڅوکسه هم ټپیان دي خوټول داسې بې سده پراته دي تابه ویل ټولوساورکړې ده، اخواپه کلي کې د مساپرودراتلو اوازه ګډه شوې وه له همدې امله سپینې شپه او ورځ د زلمي د راتلولاره څارله دا درې شپې یې خوب نه وکړی قضاماښام چې کلیوال له لمانځه دکورپه لور روانیدل په دې وخت کې دجومات په مخکې ګوڼه ګوڼه شوه سپینه چې هره شیبه یې د خپل جانان د راتلولاره څارله د بام له سره یې دجومات په مخکې په ګڼې ګوڼې سترګې ولګیدې په بیړه یې ددروازې خواته ورمنډه کړه له ځان سره یې وویل لکه چې زمازلمی راغی ،هغه دې کلیوال د جومات مخې ته دهغه د روغبرلپاره ولاړدي نوریې نوزړه له واکه ووت حیایې نوره ولاړه اوورمنډه یې کړه چې زرخپل جانان ووینې کله چې د زړې کلاپه کنډوکې لږتم شوه په کلیوالویې سترګې ولګیدې چې څادریې خولوته نیولې اوله سترګویې اوښکې روانې دي لږهغې خواته د زلمي پلارپټکی په غاړه کې پروت اوپرسرخاورې بادوي سپینې د دې صحنې په لیدوسره چیغه کړه ، زمازلمی یې راوړی زما مساپره زه دچاته پرېښودم اوپه همدې سره پرځمکه ولویده.

# څلونه او رمزونه

**په شونډو کې ټپې لاس کې ټوپک سترګو کې اوښکې**
**عادت دی را ته داسې د بابا نه پاتې شوی**
اجمل "اند"

امانزوی

## سوله

وطن مې امن غواړي، سوله نن په پور غواړي
دا ناسور زخم څه ملهم غواړي ټکور غواړي

کلي ته توره وبا راغله او اشر يې وکړ
بڼ کې د ګُلو لوکوي له هر چا لور غواړي
زه يې کرار کړم، دلاسا يې کړمه، غلی يې کړم
زړه په دې نيمه شپه له مانه شر او شور غواړي
نور په پنځه ستوري هوټل کې کته پورته کيږي
زما ولس وچه ډوډۍ نه لري، شکور غواړي
په ما يې سل نومونه کيښول ملامت يې کړمه
زما په کور باندې راغلی ما په ګور غواړي
زه ورته وايمه خُرما ښه ده، ثواب يې ډېر دی
جانان مې خوله په روژه ماتي کې په زور غواړي

رقيبه چا وېل چې پښتون په مينه نه پوهيږي؟
امانزوی تا نه سپيناوی ددغه تور غواړي

قدرت الله درمان

## مورې

اختر هم هغسې وو
خوشالي ښه ډېره وه
رنګيني ښه ډېره وه
د هر چا ښه نوي کالي په غاړه
ښه قسما قسم خوراکونه موجود
په دسترخوان د مېوو پنډې پرتې
لنډه يې دا کمی د هيڅ شي نه وو
خو دا يو غټ توپير موجود وو مورې
چا هم په دواړه مخه ښکل نه کړمه
چا هم په مينه راته ونه وې چې
ښکلی اختر دې مبارک شه زويه !!

اجمل اند

## کيږدی

ځه ، يو چېرته لرې به له سره کېږدی ووهو
ځه، چې په رڼو ستورو کې بره کېږدی ووهو

ځو ، به او د بنګو په چينو پسې به وګرځو
بس ورته نيږدې به بې خطره کېږدی ووهو
دنګې ودانۍ به بشر پالو ته ورخوشې کړو
موږ به يو راغه کې له څادره کېږدی ووهو
ښه ده چې يې نور له بدرنګانو سره ووېشو
ځه چېرته له وړانګو د زړه سره کېږدی ووهو
دا د زمانې ټيکداران ۍ‌ې راته نه پرېږدي
موږ چې خپلو غرونو کې اکثره کېږدی ووهو

ځای ، ځای به جرګې وکړو، پل، پل به تر غاړه وځو
ځئ چې له کابل تر پېښوره کېږدی ووهو

جلال امرخېل

## غزل

لکه غني ، لکه خيام ، نشه يې سترګو کې ده
د شرابي غزل د جام ، نشه يې سترګو کې ده
جلۍ ولاړه ده په بام ، نشه يې سترګو کې ده
ټالۍ وهي سر ماښام ، نشه يې سترګو کې ده
جلال پرېوځي ګام په ګام ، نشه يې سترګو کې ده
ستا د تومت، ستا د الزام ، نشه يې سترګو کې ده
لښکر په لر وطن ډاډه په يرغل ځکه ورځي
د بر وطن د قتل عام ، نشه يې سترګو کې ده
زما ياران د مړ پاچا په غلامۍ نازيږي
وايي چې ، ځه خو د نظام ، نشه يې سترګو کې ده
مزارۍ پېغله پېښور کې هسکې سترګې ګرځي
د خپل پښتون پښتون باګرام نشه يې سترګو کې ده
د دې يتيم ځلمي له سترګو نه چې وينې څاځي
د شهيد پلار د انتقام ، نشه يې سترګو کې ده
په ما دې ډکې پيالې بنګ نه څښي په شنه سبايي
په ما دې نه کوي سلام ، نشه يې سترګو کې ده

سيد جيلاني جلان

## غزل

ستا د سترګو سيوري مې ليدلي دي
دوه غنم رنګ ستوري مې ليدلي دي

ځه چې په کلابو دې نن ولمانځم
ای! د بڼ په لوري مې ليدلي دي
کرانه! د رڼا د مينارې په سر
ستا دنا مې توري ليدلي دي
څو ځلې کېږدۍ کېږدۍ هند ارې هم
ستا پښو ته نسکوري مې ليدلي دي
يو شاعر غلام بل تخيل غلام
دوه تنه کمزوري مې ليدلي دي

وړې جلانه! زړه پوښتنه نه کوي
دې چم کې سرزوري مې ليدلي دي

عماد دوران

## غزل

سر به ټيټيږي نن سبا، د زورورو خلکو
زور به اوبه شي زورتبا، د زورورو خلکو

په څه قصور په څه ګنا د زورورو خلکو
تياره زمونږ ده او رڼا، د زورورو خلکو
زورورخدای دی زورله خدای سره بس ښه ښکاريږي
څه به وي زور؟ د دې دنيا د زورورو خلکو
د زړه په کور د زړه په چم د اور باران راولي
دا ناجايزې ناروا، د زورورو خلکو
د محبت له جزبې ډکې ښکلا غاړه راکړه
وس چېرته رسي اوس په ما د زورورو خلکو

د ژوندون تور د ژوندون سپين ورته تا ټول وښودل
دوران اوس نه ساتي پروا د زورورو خلکو

**نوې هيله خپلواکه ملي، علمي او فرهنګي خپرونه ده. په هيڅ سياسي ګوند او سازمان پورې اړه نه لري. په نوې هيله کې د خپرو شوو ليکنو مسئوليت د هغوی د ليکوالو په غاړه دی.**

سمیع الله ترون

# کرزي ته

پردې زامن دهیڅا نه خپلیږي
زمابچوړي سوال ته مه کېنوه
تابه له ټولو خلکو روسته وژني
لالا د مرګ اجازه مه ورکوه
زما د مرګ اجازه مه ورکوه
د چاد مرګ اجازه مه ورکوه

زما ځنګلې په بارو تو سېزي
مال مې دې لاړشي په بلا بې وله
ماشومان ورېي له کورونو تښتي
زما په غردې زړه خوږېږي که نه؟
زما په سر دې زړه خوږېږي که نه؟
په مازیګر دې زړه خوږیږي که نه؟

د پارلمان وکیله ساه دې وځه
ته له تودې برستنې نه راوځې
داد بمونو شوردې نه ویښوي
ته د کرزي لالا سلام څه کوې
برستن دې یخه شه ارام څه کوې
په خپله خاوره او خپل قام څه کوې

مشره وطن دې ټول سوری سوری کړ
پردۍ لښکرې په ټوپکو سنبال
زمونږ په دین او وطن لوبې کوي
اوس رواجونه رنګ په رنګ راځي
په سوله نه راځي په جنګ راځي
ځکه مو وینې په غورځنګ راځي

ددې کیسې درنه پوښتنه کوم
د ملالۍ مزار جنډه نه لري
نور انسانان یې په بوټانو ولي
دا درونډ لقب مارشال دې چاته ورکړ
د ایوب توره ډال دې چاته ورکړ
دستر غازي مډال دې چاته ورکړ

دیموکراسۍ له ژونده وویستلو
خومره دې ووژلو بس دی کنه
داور لمبه دې درنه وګرځېږي
خپلو بچو پسې پېړې کوو
همېشه غم دهډیرې کوو
مونږ افغانان درته ښېرې کوو

لالا لالا نه دې پوښتنه وکړه
که صلیبي جګړه دې نه کوله
که اسامه په توره بوره کې و
افغانستان سره دې څه کار و
د مسلمان سره دې څه کار و
وزیرستان سره دې څه کار و

د احمدشاه تاریخ دې نه دی لوستی
ته د میرو بس نیکه له ذاته نه یې
زرده رسوا به شې ذلیله به شې
تاسره قدر د امان نشته
تاکې غېرت تاکې ایمان نشته
په سر دې سیورې د قران نشته

ته هم پوهېږې چې وطن تبا شو
یوه جوړه جامې خوراکه راته
پاچا صیب ګوته له ماشې لېرې کړه
زه هم پوهېږم چې غلام یمه
لغړ راوتی له بګرام یمه
زه دې اولس یم زه دې قام یمه

لړ د برستنې نه بهر راوځه
صلیب ککړې غواړې وینې غواړې
بش خو یې ستړی کړ په کور کېناسته
چې داپه کومه ډرامه جنګ دی
بیا په امت مسلمه جنګ دی
دابامه نوی تا زه جنګ دی

ته وایې خوله پټه کړه غلی کېنه
زه وایم قام تبا شه ننګ تبا شه
بس ته پردو ته ستړیمشي کوه
زه وایم غږ زما ازاد نه دی
ته وایې دغسې برباد نه دی
مونږ سره فکر د جهاد نه دی

شرر ساپی

# غزل

نیمګړې زاره چاودی یې ارمان دی لګه ته
شرر دی که درویش دی که کاروان دی لګه ته

یو زه یم یو دې یاد دی یوه مینه ده اشنا
دا وخت رابانـدې هم دغسې ګران دی لګه ته
شبنم د شپې په غېږ کې له ګل واخیستې مچکې
ګل ویښ شو ګل ویده و ګل حیران دی لګه ته
لاسونه د زرینو وړانګو وغځیدل ګل ته
سپرلی له خندا شین شو راروان دی لګه ته

څه نه جوړېږي وا جانانه راشه چې پخلا شو
شرر پخپله پریکړه پښیمان دی لګه ته

---

غفور لېوال

# نوي املا

ماین په (الف) لیکئ
چې:
له (مین) سره یې فرق وشي
هسې هم
نن سبا
په دې وطن کې
له مینانو نه ماینونه ډېر دي
او
(ټوپک) اسم مذکر دی
(ټوپکونه) یې جمع
دې ته (ټوپکې) کارول ناسم دي
ځکه ټوپکې د ماشوم
منډو رامنډو سره
ښې ښکاري
سپېڅلې لوبې په بدرنګه نومو مه یادوئ



# Nawey Hilla

**Afghanskt Akademiskt Kulturcentrum i Sverige**

۱۲ مخ　شپږم کال ـ پرلپسې نهه ویشتمه ګڼه　۱۳۸۸ لمریز کال لیندۍ (قوس)　Nr. 29 Nov 2009



محمد نعمان دوست


## بیټ نیکه !

ستا دعا قبلېدونکې وه ، ستا د دعا برکت و چې دکسي او سلیمان د غرونو په ډډو کې د پښتنو کېږدۍ پلنې شوې او نغریو نه اورونه پورته شول.

نیکه ! تاسو په پوره عاجزۍ او اخلاص لوی دربار ته لاس ونیو او د زړه له تله مو وویل:

دا وګړي ډېر کړې خدایه لویه خدایه لویه خدایه

نیکه ! د همدغې دعا برکت و چې دغه وګړي ډېر شول ، نورو سیمو ته وکوچېدل او سیمې پرې ښایسته شوې.

نیکه ! خو ته خبریې ستا په لمسیانو اوس څه تېرېږي !؟

هغه لمسیان چې ستا ددعا په برکت ډېر شوي وو ، اوس د نابودۍ خواته روان دي.

نیکه !

د کسي او سلیمان غرونه ستا د لمسیانو په وینو ولمبېدل ، د نغریو اورونه مړه دي ، اوس د هغوی دکېږدیو ماندې شلېدلي او یو ستر توپان یې هر څه په مخه کړي دي.

نیکه !

ستا لمسیان یو بل نه سرونه غوڅوي ، اوس په هرڅو مترو کې ستا دلمسي جسد پروت دی او اوس د هر خوړ د اوبو رنګ ستاد لمسیانو وینو سور کړی دی.

نیکه !

اوس هغه سپین پټکي چې سرونه به پرې ښایسته وو ، له زنو را تاو دي او اوس...

نیکه !

ستا لمسیانو ته (دا جهان قصاب خانه * ) شو او هر لمسی دی د (قصاب په غولي پا بسته ولاړ دی. )

نیکه !

ستا نازولي لمسیان یو د بل په وینو نه مړېږي ، د نورو خو پخوا ورته زړونه ډک وو ، له هرې خوا پرې ناتاردی مرګوني ګوزارونه دي او ...

نیکه !

زموږ لاسونه په وینو سره دي ، موږ یې له شرمه د خدای پاک دربارته نشو پورته کولی ، دعا مو نه قبلېږي.

نیکه !

قیامت ته انتظار مه کوه ، ستا په لمسیانو همدا اوس قیامت دی ، را پورته شه او بیا د یوې ونې ډډ ته تکیه وواهه ، لاسونه پاک دربار ته پورته کړه او د زړه له تله ووایه:

دا وګړي ډېر کړې خدایه ! لویه خدایه ـ لویه خدایه

نیکه !

هله ، ځنډ مه کوه. ستالمسیان یو بې رحمه توپان په مخه کړي ، که په دعا کې ځنډ وکړې د نسل لپاره به هم څوک پاتې نه شي او بیا به ستا دعا لکه ستا د لمسیانو برخلیک په هوا کې ورکه شي.

* دا جهان قصابخانه کړ خدای وماته
پا بسته ولاړ په غولي د قصاب یم

## د بارک اوباما د انا سارا اوباما سپارښتنه

له بهرنیو منابعونه ، ژباړونکی :
حبیب الله غمخور



دبارک اوباما اناسارا اوباما له هغه نه وغوښتل چې دسولې لپاره تلاښونو ته په نه ستړې کېدونکې توګه ته دوام ورکړي !

دامریکا دولسمشر بارک اوباما انا ((سارا اوباما )) داکتوبر پر لسمه دشنبې ورځ په یوه مطبوعاتي مرکه کې خپل لمسي دامریکا ولسمشر بارک اوباماته سپارښتنه وکړه چې په نړۍ کې دسولې او ثبات دراوستلو لپاره خپلو تلاښونوته دوام ورکړي.

ساراوباما پداسي حل کښې چې دکوګیلوپه کلي کښې چې ددې داوسېدوځاي دی ،پداسي حال کښي چې پر یوه پلاستیکي چوکۍ دخپل کور مخته ناسته وه داسوشیتد پرس خبري اژانس سره په مرکه کښې وویل پدې باورده چې بارک اوباماته دنوبل دسولې دا جایزه دخداي له لوري یوه ډالۍ وه.

درانه لوستونکی خبردي چې تیره اونۍ په ناروي کښې دنوبل دسولې دجایزې کمېټې دسږکال دغه جایزه دامریکا ولسمشر بارک اوباماته دسولې په لارکې دهغه دتلاښونوپه خاطر ورکړه ،سره لدې چې پدې هکله په نړیواله کچه مختلف غبرګونونه راڅرګدسول .

تر کومه ځایه چې ښاغلی بارک اوباما تیر کال دجنوري په میاشت کي دامریکادولسمشرپه توګه سپینې ماڼۍ ته لاړ ،نو پدې خاطر په ناروي کښې دنوبل دسولې دجایزې دکمېټې پدې پرېکړه ډیرکسان حیران پاته سول.

داسوشیتد پرس خبري اژانس دکوګیلونه رپوټ ورکوي چې ښاغلي بارک اوباما ته دنوبل دسولې د جایزې په ورکولو سره دکنیادخلکو ډیره خوشحالي څرګنده کړه .

دیاده دې نه وي وتلې چې ښاغلي بارک اوباما دیوه کنیایي اقتصادپوه زوي دی.

ښاغلی بارک اوباما دهغو ((۲۰۵)) کسانو په منځ کښې ددې جایزې وړوبلل شوم کوم چې په ټوله نړۍ کښې ددې جایزې دګټلو لپاره نومول شوی وه.

دژباړونکی یادونه:

پدې هلیه چې دامریکا ولسمشر ښاغلي بارک اوباما نه یوازې په ناروي کښې دنوبل دسولې دجایزې دکمېټې بلکې دټولونړیوالوپه سرکې دافغانستان ،فلسطین اوعراق دخلکوهغه هیلې او ارزواګي ني چي په خپلو هیوادو اوسیمه کښې ئې دسولې ،ثبات اوښیرازی لپاره لري هم ترسره کړي.اوپدې لارکښې دنړیوالو زبرځواکو ترټولوګټودنړۍ ددې سوځېدلې اوکړېدلې سیمې اوزورېدلوخلکو رواوانسان غوښتنوته دلومړیتوب حق ورکړي.